# اعلیٰ حضرت
# او عقیده ختمِ نبوت

**07-September-2023**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 7 ستمبر کال 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کېدونکے بیان

# اعلٰی حضرت او عقیده ختمِ نبوت

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنټر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضیلت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د زیات درود شریف لوستلو بے شمیره فضیلتونه او برکتونه دي، د دې په برکت سره مشکلات حل کیږي، په رزق کښې برکت راځي، تنګدستي لرې کیږي، د دُنیا او آخرت خیرونه نصیب کیږي، په ځنکدن کښې، په قبر کښې، په حشر کښې، په پلِ صِراط باندې آسانئ میلاویږي، الغرض: د دُنیا او د آخرت خیرونه په درودِ پاک کښې کیښودے شوي دي، ځکه مونږ له پکار دي چې ډیر زیات درود شریف وایو.

سیدي اعلیٰ حضرت امامِ اهلسنت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي: د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت عَلِـیُّ الْمُرتَضٰی شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به داسې درود شریف لوستلو:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ شَرَائِفَ صَلَوٰتِكَ وَنَوَامِیَ بَرَکَاتِكَ وَرَأْفَةَ تَحَنُّنِكَ

عَلٰی مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُوْلِكَ الْخَاتِمِ لِمَا سَبَقَ وَالْفَاتِحِ لِمَا اُغْلِقَ

ترجَمه: اے الله پاکه! خپل بهترین درودونه، زیاتیدونکي برکتونه او رحمتونه نازل کړې په خپل محبوب نبـي حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې کوم چې ستا بنده او رسول دے، د تیرو نبیانو

خاتم (یعنې آخري نبـي) او د مشکلاتو حل کوونکے دے.[1]

| | |
|---|---|
| فتحِ بابِ نبوت پہ بے حد درود | ختمِ دَورِ رسالت پہ لاکھوں سلام[2] |

**وضاحت:** اے هغه ذاته د چا نه چې د نبوت دروازه برسیره کړے شوه، یعنې چا ته چې د ټولو نه وړومبے د نبوت تاج عطا شو چې په حدیثِ پاک کښې دي: وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوْحِ وَ الْجَسَدِ[3] (یعنې زه هغه وخت هم نبي ووم) کله چې آدم عَلَيْهِ السَّلَام لا د رُوح او بدن ترمینځه وو، په تاسو باندې دې بے حده درود وي او اے هغه ذاته په چا باندې چې رسالت ختم کړے شو، چې تاسو د آخري نبـي او آخري رسول صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جوړولو سره را اولیږلے شوئ، په تاسو باندې دې ډیر ډیر سلامونه وي.

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبٰی! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کالاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی![4] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] … معجم اوسط، جلد:6، صفحه:365، حدیث:9089 ملتقطًا۔

[2] … حدائقِ بخشش، صفحه:296۔

[3] … ترمذی، ابواب المناقب عن رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:825، حدیث:3618۔

[4] … وسائلِ فردوس، صفحه:51 ملتقطًا۔

## د بیان اوریدلو نیتونه

په **حدیثِ پاک** کښې دي: **اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات** د عملونو دار و مدار په نیتونو باندې دے.[1]

**خوږو اسلامي ورونو!** ښه نِیَّت بنده جَنَّت ته رَسَوي، د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❁ د الله پاک د رضا د پاره به بیان اورم ❁ عِلمِ دِین به زده کووم ❁ ټول بیان به اورم ❁ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښېنم ❁ نصیحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبٰـی، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حضرت جبریل عَلَيْهِ السَّلَام او د ختمِ نبوت عقیده

اعلٰی حضرت، امامِ اهلسنت شاهِ امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فتاوٰی رضویه: په جلد 15، صفحه 663 باندې د دلیلونو ورکولو سره لیکي: یو ځل د فرښتو سردار حضرت جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او داسې سلام ئې اوکړو: **اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا ظَاهِرُ! اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا بَاطِنُ** اے ظاهر نبي! په تاسو باندې دې سلام وي، اے باطِن نبي! په تاسو باندې دې سلام وي. په دې باندې خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: اے جبریله! دا صفتونه خو د الله پاک دي، د هغه لائق دي،

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

زما په شان د مخلوق دا صفتونه څنګه کیدے شي؟ حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام عرض اوکړو: الله پاک تاسو ته په دې صفتونو سره فضیلت درکړو، تاسو ته ئې په ټولو نبیانو او رسولانو باندې فضیلت درکړو او د خپل نوم او صفت نه ئې ستاسو نوم او صفت راویستے دے. (اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)! الله پاک ستاسو نوم اَوَّلُ کیښودو، ځکه چې تاسو د پیدائش په لحاظ سره د ټولو انبیائے کرامو نه اَوَّل یعني وړومبي ئې (چې د ټولو نه مخکښې ستاسو نُور مبارک پیدا کړے شو)، الله پاک ستاسو پاک نوم آخِر هم کیښودو ځکه چې تاسو د ټولو انبیائے کرامو د زمانے نه په آخره کښې تشریف راوړونکے او د آخري اُمَّت آخري نبي ئې، دغه شان الله پاک ستاسو پاک نوم بَاطِن هم کیښودو، ځکه چې الله پاک د خپل نوم سره ستاسو پاک نوم په ښکلي نُور سره د عرش په تخت باندې د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د پیدائش نه 2 زره کاله مخکښې د همیشه همیشه د پاره اولیکلو، بیا ئې ما ته په تاسو باندې د دُرود شریف لیږلو حکم اوکړو نو ما په تاسو باندې زر [1000] کاله درود او زر [1000] کاله سلام اولیږلو تر دې چې الله پاک تاسو زیرے ورکونکي او [د الله پاک نه] ویروونکي، د الله پاک د حکم په لور رابلونکي او د پرقیدونکي نمر جوړولو سره را اولیږلې. دغه شان الله پاک ستاسو پاک نوم ظَاهِرهم کیښودو ځکه چې په دې سره ئې تاسو ته په ټولو انبیاؤ باندې غلبه عطا کړله، ستاسو شریعت او فضیلت ئې په ټولې زمکې او آسمان والؤ باندې ظاهر کړو نو څوک داسې پاتې نه شو کوم چې په تاسو باندې درود نه وي لیږلے، الله پاک دې په تاسو باندې درود (یعني رحمت) را اولیږي، بس ستاسو رَبّ مَحمُود (تعریف کړے شوے) دے او تاسو مُحَمَّد (یعني تعریف

کړے شوي ئې. ستاسو رَبّ اَوَّل او آخر، ظاهِر او باطِن دے او تاسو هم (د خپل رَبّ په عطا سره) اَوَّل او آخر، ظاهِر او باطِن ئې.[1]

نگاہِ عشق و مستی میں وہی اَوَّل، وہی آخر | وہی قرآں، وہی فرقاں، وہی یٰسیں، وہی طٰہٰ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مونږ د آخري نبي آخري اُمَّتيان يو

اے عاشقانِ آخري نبي! د الله پاک په مونږه گنهګارانو باندې ډیر لوئے فضل و احسان دے چې هغه مونږه د خپل خوږ او آخري نبـي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُمَّتيان جوړ کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو رسولانو او انبياؤ نه افضل دے او د الله پاک په رحمت باندې د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په برکت سره د هغوئي اُمَّت د مخکښينو ټولو اُمَّتونو نه بهتر دے.

سارے رسولوں سے تم بَرتر، تم سارے نبیوں کے سروَر
سب سے بہتر اُمّت والے، صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ختمِ نبوت ورځ او تحقيقاتِ رضا

اے عاشقانِ آخري نبي! نن 7 ستمبر دے او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږ په خوږ ملک پاکستان کښې 7

---

[1] ... فتاویٰ رضويه، جلد: 15، صفحه: 663 ملتقطًا۔

[2] ... سامانِ بخشش، صفحه: 103۔

ستمبر د ختمِ نبوت ورځ نمانځلے شي او ډیر زر اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِیم! د صفر المُظفر 25 شریف یعني یومِ رضا هم تشریف راوړونکي ده. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشق، د ختمِ نبوت د عقیدے څوکیدار دے، سیدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه چې څنګه د نورو عقیدو او اعمال، تفسیر او حدیث، فقه او تصوف وغیره د 100 نه په زیاتو علومو کښې بهترین تحقیقات فرمائیلي دي، د ختمِ نبوت عقیده ئې هم هغوئي ډیره په ښکلي انداز کښې بیان کړې ده، راځئ! د ختمِ نبوت د ورځې په مناسَبَت سره د ختمِ نبوت د عقیدے په باره کښې د سیدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه د تحقیقاتو اوریدو سعادت حاصلوو.

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبیٰ! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی! |
| نظریہ غوث کا | سب سے آخری نبی! | اَولیا کا نظریہ | سب سے آخری نبی! |
| ہے رضا کا نظریہ! | سب سے آخری نبی! | نظریہ عطار کا! | سب سے آخری نبی![1] |

## ستا مثل نشته په خدائے مې دې قسم وي

یو ځل د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عاشق، سیدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَیْه په خدمت کښې پوښتنه اوشوه: آیا په دُنیا کښې بَل څوک مُحَمَّد پیدا کیدل ممکن دي؟

[1] ... وسائلِ فردوس، صفحه: 5251 ملتقطًا.

خومره ځانګړې پوښتنه ده...!! یوه خو دا پوښتنه ده چې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس بَل څوک نبي راتللے شي که نه؟ خو پوښتنه کوونکي دا پوښتنه اونکړه چې بَل څوک نبـي راتللے شي که نه؟ هغه پوښتنه اوکړه: آیا بَل یو مُحَمَّد پیدا کیدے شي او که نه؟ اوس واورئ!

د آخري نبي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عاشق، سیدي اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ جواب...!! د هغوئي د ارشاداتو خُلاصه ده، اوئې فرمائیل: هغه مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم چې د الله پاک رسول دے، اَوَّل هم دے، آخِر هم دے، ظَاهِر هم دے، بَاطِن هم دے، د نبیانو سردار هم دے، مالِک و مختار هم دے، الله پاک چې څوک رَحۡمَۃٌ لِّلۡعٰلَمِیۡن هم جوړ کړو او د خَاتَمُ النَّبِیّٖن تاج ئې هم د هغوئي په سر باندې کیښودو، د هغوئي په شان په دُنیا کښې څوک هم نشي کیدے، لکه څنګه چې بَل خدائے کیدل ناممکن او محال دے، هم داسې بَل مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کیدل هم ناممکن او محال دے.[1]

رُخِ مصطفٰے ہے وہ آئینہ کہ اب ایسا دُوسرا آئینہ
نہ کسی کی بزمِ خیال میں، نہ دُکانِ آئینہ دار میں

یعنې مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه عظیمُ الشانه، بے مثله او بے مثاله هستي ده چې د هغوئي په شان بَل څوک نه د چا په تَصُّور او خیال کښې دے او الله پاک نه بَل داسې څوک پیدا کړے دے او نه به ئې جوړ کړي.

سیدي اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکي:

تیرا مِثل نہیں ہے خُدا کی قسم!

**ترجمه:** ستا مثل نشته په خدائے مې دې قسم وي!

---

[1] ...فتاوٰی رضویه، جلد:18، صفحه:27، 28 خلاصةً (مکتبه غوثیه کراچي)

اے عاشقانِ آخري نبي! دا خو د اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ جواب وو، اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ چې د دې کوم دليل ورکړو، اوس هغه واورئ! ليکي: زمونږه آقاومولٰی، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه عظيمُ الشانه، بے مثله او بے مثاله هستي ده، کوم چې رَبِّ کائنات خَاتَمُ النَّبِيِّن (يعنې د ټولو آخري نبي) جوړولو سره راليږلے دے، اوس فرض کړئ! که بَل مُحَمَّد پيدا کيدل ممکن دي نو مونږه پوښتنه کوو، هغه بَل چې به کوم راځي، آيا هغه به هم خَاتَمُ النَّبِيِّن (يعنې د ټولو نه آخري نبي) وي او که نه؟ که وائې چې هغه به خَاتَمُ النَّبِيِّن نه وي، نو بيا خو هغه مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه شو، که وائې چې هغه به هم خَاتَمُ النَّبِيِّن وي، بيا خو زمونږ آقا و مولٰی، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم آخري نبي پاتې نه شو، ځکه چې آخري خو صرف يو وي، ځکه ثابته شوه چې رَبِّ کائنات صِرف هم يو مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جوړ کړے دے، نه د هغوئي نه مخکښې بَل څوک د هغوئي په شان وو، نه د هغوئي نه پس د هغوئي په شان څوک کيدے شي.[1]

ترے خُلق کو حق نے عظیم کہا، تری خِلق کو حق نے جمیل کیا
کوئی تجھ سا ہوا ہے نہ ہوگا شہا ترے خالقِ حُسن و ادا کی قسم
ترا مسندِ ناز ہے عرشِ بریں، ترا محرمِ راز ہے رُوحِ امیں
تُو ہی سرورِ ہر دو جہاں ہے شہا، ترا مثل نہیں ہے خُدا کی قسم[2]

وضاحت: اے زما رحمت والا آقا! الله پاک ستاسو خُلق مبارک عظيم (ډير لوئے) ټاکلے دے، په دنيا کښې چې کله تاسو جلوه ګر شوئ نو د هر قِسمه عيب نه پاک وې، نوم غورځيدلي، غسل ورکړے شوي، رانجه لګولے شوي، ختنه [سُنت] شوي پيدا شوئ، تاسو ته د نُور خوراک درکړے شو.

---

[1] ... فتاوٰیٰ رضويه، جلد:18، صفحه:28 خلاصةً (مکتبه غوثيه کراچی)

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:80 81 ملتقطًا

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے. زما د آقا جانِ جانان صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د هغوئي په شان څوک څنګه کیدے شي؟ آو آو! د زمکې او آسمان پیدا کولو والا په رَب مې دې قسم وي ستاسو په شان څوک هم نشته.

الله! الله! څومره د کمال عِلم دے، څومره بےمثاله دلیل دے، دا خو د بَل مصطفٰے کیدو خبره ده،

د سیدي اعلٰـی حضرت رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْہ ورور مولانا حسن رضا خان صاحب رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْہ لیکي:

یہی منظور تھا قُدرت کو کہ سایہ نہ بنے
ایسے یکتا کے لئے ایسی ہی یکتائی ہو[1]

او یو شاعر څومره ښکلې خبره کړې ده:

اَرْبَابِ نظر کو کوئی ایسا نہ ملے گا — بندے تو مل ہی جائیں گے، آقا نہ ملے گا
تاریخ اگر ڈھونڈے گی ثانیٔ محمد — ثانی تو بڑی چیز ہے سایہ نہ ملے گا

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبٰی! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہْلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی! |
| نظریہ غوث کا | سب سے آخری نبی! | اَوْلیا کا نظریہ! | سب سے آخری نبی! |
| ہے رضا کا نظریہ! | سب سے آخری نبی! | نظریہ عطار کا! | سب سے آخری نبی![2] |

[1] ... ذوقِ نعت، صفحه: 105

[2] ... وسائلِ فردوس، صفحه: 51، 52 ملتقطًا۔

## د ختمِ نبوت عقیده څه ده؟

**اے عاشقانِ رَسُول!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه آقا و مولیٰ، مکي مدني مصطفٰے، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ټولو آخري نبي دے. په اسلام کښې د ختمِ نبوت عقیده څه ده؟ او د دې اهمیت څه دے؟ اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په دې باندې هم مونږه پوهه کړو، د هغوئي د فرامینو خلاصه ده: د کله نه چې احمدِ مجتبیٰ، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دنیا ته تشریف راوړو، د هغه وخت نه تر قیامته پورې یو ګس هم په یو لحاظ سره په یوه زمانه کښې، په ووه واړو آسمانونو او په ووه واړو زمکو کښې، د کائنات په یوه خطه کښې څوک نوے نبي نشي راتلے.

او اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ لیکي: په اسلام کښې چې څنګه په لَاۤاِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ باندې ایمان لرل ضروري دي، هم دغه شان مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰہ صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خَاتَمُ النَّبِیّٖن منل هم لازمي او ضروري دي، کوم بنده چې د دې عقیدې نه انکار اوکړي یا په دې کښې د یوې ذرے برابر شک هم اوکړي هغه یقیني طور کافِر دے، ملعُون دے، همیشه به په دوزخ کښې وي. بیا خبره تر دې حده پورې نه ده بلکه چا ته چې د دې مُرتَد د غلطې عقیدې پته وي، بیا هغه دے کافِر نه ګڼي یا بیا د ده په کافِر کیدو کښې شک کوي، هغه هم کافِر او مرتَد دے.[1]

**یاد ساتئ!** د اللّٰه پاک نبي حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام په څلورم آسمان باندې تشریف فرما دے، هغوئي لا تر اوسه پورې د مرګ خوند نه دے څکلے، قیامت ته نزدې به هغوئي بیا

[1] ... فتاویٰ رضویه، جلد:15، صفحه:630 خلاصةً۔

دُنيا ته تشريف راوړي او د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شريعت تبليغ به فرمائي. د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام دنيا ته د تشريف راوړلو سره به د ختمِ نبوت په عقيده باندې هيڅ فرق نه پريوځي ځکه چې د خَاتَمُ النَّبِيّن معنیٰ ده: د مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظهور نه پس به چا ته نبوت نه ميلاويږي، حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مخکښينے نبي دے، هغوئي ته نبوت وړاندې ميلاؤ شوے دے، قيامت ته نزدې به چې کله هغوئي دُنيا ته تشريف راوړي نو هغه وخت به هم نبي وي خو د يو نبي په حيثيت سره به د خپل شريعت تبليغ نه کوي بلکه د الله پاک د ټولو نه د آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شريعت باندې به عمل کوي، لکه چې هغوئي به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّتي په حيث تشريف راوړي.[1]

| | |
|---|---|
| بعد آپ کے ہرگز نہ آئے گا نبی نیا | واللہ! ایماں ہے مرا، اے آخری نبی |

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفےٰ! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبیٰ! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہْلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی! |
| نظریہ غوث کا! | سب سے آخری نبی! | اَوْلیا کا نظریہ! | سب سے آخری نبی! |
| ہے رضا کا نظریہ! | سب سے آخری نبی! | نظریہ عطار کا! | سب سے آخری نبی![2] |

## اعلیٰ حضرت او د ختمِ نبوت آيت تفسير

الله پاک په سيپاره 22، سوره اَحزاب، آيت 40 کښې ارشاد فرمائي:

---

[1]... تفسیر نسفی، پارہ:22، الاحزاب، زیرِ آیت:40، جلد:6، صفحہ:87 خلاصةً۔

[2]... وسائلِ فردوس، صفحہ:5251 ملتقطًا۔

مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَاۤ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِیّٖنَؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمًا۠ (۴۰)

مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: مُحَمَّد ستاسو په نارینۀ کښې د چا پلار نه دے خو د الله رسول دے او د ټولو نبیانو په آخره کښې تشریف راوړونکے دے او الله په هر څه پوهه لرونکے دے.

د دې آیت شریف تفسیر پخپله آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم اوفرمائیلو، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم هم د دې تفسیر بیان کړلو، تابعینو هم بیان کړو، بیا د هغه وخت نه واخله د 13 صدئ علمائے کرامو هم د دې آیت په باره کښې ډیر ښکلي او علمي تحقیقات اوکړل، سیدي اعلٰی حضرت، امامِ اهلِسُنَّت شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې 13 واړو صدو د تحقیقاتو د خلاصے بیانولو سره لیکي: د خَاتَمُ النَّبِیّٖن معنٰی ده: آخِرُ الْاَنْبِیَاء یعنې (د ټولو نه آخري نبي چې) د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره یا د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس تر قیامته پورې چا ته نبوت میلاویدل مُحال [ممکن نه] دي. د آیت په دې معنٰی کښې څه قِسمه تاویل یا تخصیص کول (یعنې د خپلې خوښې معنٰی ویستل) کُفر دے.[1]

## د خَاتَمُ النَّبِیّٖن" 5 کُفریه معانې

سیدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور لیکي:

**(1)** څوک چې اووائي: د خَاتَمُ النَّبِیّٖن مطلب دے: نوي شریعت والا نبي، څکه په دې اسلامي شریعت باندې عمل کولو والا نبـي راتللے شي." ده ویونکے کافِر دے. **(2)** څوک چې د "خَاتَمُ النَّبِیّٖن معنٰی نبـي بِالذّات (اصلي نبي)" اوکړي، کافِر دے. **(3)** څوک چې د

[1]... فتاوی رضویه، جلد:14، صفحه:333 خلاصةً۔

دې معنٰی اَفْضَلُ النَّبِیّٖن (د ټولو نبیانو نه افضل) اوکړي، کافِر دے".[1] واضِحه دې وي! زمونږه آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بے شکه د ټولو نبیانو نه افضل دے، خو د "خَاتَمُ النَّبِیّٖن" دا معنٰی کول کُفر دے چې دا په قرآن کښې تحریف دے. **(4)** څوک چې اووائي په دې زمکه باندې خو نه خو په بَل ځائے (مثلاً په ووه واړو زمکو یا ووه واړو آسمانونو کښې چرته) څوک نبي راتللے شي، وئیلو والا کافِر دے. **(5)** څوک چې اووائي: "په انسانانو کښې نوے نبي نشي راتللے، البته په نورو مخلوقاتو کښې اوس هم نبي راتللے شي" قائل (وئیلو والا) کافِر دے.

**یاد ساتئ!** د"خَاتَمُ النَّبِیّٖن" داسې معنٰی کوونکے هم کافِر دے، څوک چې دے کافِر نه ګڼي یا ئې په کُفر کښې شک کوي هغه هم کافِر، مرتد، د اسلام نه خارِج دے.[2]

سب صحابہ کا ہے یہ عقیدہ اَٹل | ہیں یہ خیرُالورٰی خاتَمُ الْاَنبیاء

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نبوت د دروغو دعوٰی کوونکي نه دلیل غوښتل څنګه دي؟

حضرت ابو منصور ماتریدي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکي: څوک چې د حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پس د نبي راتللو دعوٰی اوکړي نو د هغه نه به هیڅ دلیل نشي غوښتلے بلکه د هغه

[1]... فتاوٰی رضویه، جلد:14، صفحه:333 ماخوذاً۔

[2]... فتاوٰی رضویه، جلد:14، صفحه:338 ماخوذاً۔

ګَس د عقیدې نه به انکار کولے شي[1] ځکه چې د الله پاک خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: لَانَبِیَّ بَعۡدِی یعنې زما نه پس هيڅ يو نبي نشته.[2]

| | |
|---|---|
| شہِ انبیا ہے، خُدا کا ہے پیارا | وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے |
| محمد ہے احمد، ہے سلطانِ بطحا | وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے |

د سيدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د فرمان خلاصه ده: که د نبوت د دروغو دعویٰ کوونکي نه دې د پاره معجزه اوغوښتلے شي چې دے دروغژن دے، ځکه به معجزه ښکاره نکړے شي، چې ښکاره ئې نکړے شي نو ذليل و رُسوا به شي، په دې نِيَّت باندې د معجزې ښکاره کولو د پاره په وئيلو کښې خو هيڅ باک نشته، البته که د تحقيق د پاره معجزه اوغوښتلے شوه چې اوګورو چې دے معجزه ښکاره کولے هم شي او که نه نو په دې نيت سره د دروغژن نبي نه د معجزې غوښتنه کوونکے به فوراً کافِر شي.[3]

د الله پاک پناه...!!

| | |
|---|---|
| ایماں پہ رَبِّ رحمت دے دے تُو استقامت | دیتا ہوں واسطہ میں تجھ کو ترے نبی کا[4] |

## يو صحابي نبي ګڼل څنګه دي...؟

اے عاشقانِ رَسُول! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! سيدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د ختمِ نبوت د عقيدې په باره کښې ډير څه ليکلي دي، په دې کښې خاص طور 6 رسالے دي کومې چې د ختمِ نبوت د

---

[1]... تفسير تاويلات اہلِ السنه ماتريدی، پاره:22، الاحزاب، زيرِ آيت:40، جلد:8، صفحه:396۔

[2]... مسلم، کتاب الامارة، باب وجوب الوفاء ببيعة الخلفاء الاول فالاول، صفحه:739، حديث:1842۔

[3]... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:134 بتغير قليل۔

[4]... وسائلِ بخشش، صفحه:178۔

عقیدې په بیان باندې یا د ختمِ نبوت نه د انکار کوونکو په رَدّ کښې لیکلے شوې دي، په دې کښې یوه رساله ده: جَزاءُ اللهِ عَدُوَّهُ بِاِبَائِهِ خَتْمَ النُّبُوَّة (یعنې د ختمِ نبوت نه په انکار کوونکي د الله په دښمن باندې د الله پاک ګزار). د سیدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې پوښتنه اوشوه: یو کَس دے کوم چې حضرت سیده فاطمةُ الزهرا، حضرت علي المُرتضٰی شیرِ خُدا او امام حسن او حسین رَضِیَ اللهُ عَنْهُم نبي ګڼي. د ده په باره کښې څه حکم دے.

د دې په جواب کښې سیدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د غټ سائز په 113 مخونو باندې مشتمله یوه عظیمُ الشانه رساله اولیکله، په کومه کښې چې هغوئي د قرآنِ کریم د دې آیت:

| | |
|---|---|
| وَلٰکِنۡ رَّسُوۡلَ اللّٰہِ وَ خَاتَمَ النَّبِیّٖنَ ؕ (پاره:22، الاحزاب:40) | مفهوم ترجَمهٔ کنزُ العرفان: خو د الله رسول دے او د ټولو نبیانو په آخره کښې تشریف راوړونکے دے. |

او د احادیثو او روایتونو او د مخکښینو آسماني کتابونو د ارشاداتو لیکلو سره ئې دا ثابته کړه چې کوم بنده د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخري نبي کیدو نه انکار اوکړي، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري ژوند په زمانه کښې یا د دې نه پس تر قیامته پورې د هرې اوچتې نه اوچتې مرتبې والا نبي اومني، هغه بنده کافِر دے، د اسلام د کربښې نه بهر دے.[1]

سیدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې په دې مبارکه رساله کښې د ختمِ نبوت د عقیدے کوم دلیلونه ذِکر کړل، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عاشق، امیر اهلسنت، مولانا محمد

[1] ... فتاوٰی رضویه، جلد:15، صفحه:629، 630 خلاصةً۔

الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په دې کښې ډېر دليلونه په خپله رساله "**سب سے آخری نبی**" کښې ذِکر کړي دي. راځئ! په دې کښې يو څو دليلونه اورو. که نور تفصيل ئې غواړئ نو د امير اهلسنت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه رساله "**سب سے آخری نبی**" اولولئ بلکه کوشش اوکړئ چې د ختمِ نبوت د ورځې په موقع په خپل کور کښې، په جُمات کښې، په خپله محله کښې، بازار کښې د دې رسالے نه دَرس ورکړئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! عِلمِ دِين به هم زده کړئ او د نيکئ د دعوت عام کولو به هم ډېر ثوابونه اوګټئ.

## د ختمِ نبوت د عقيدې دليلونه

## لوحِ محفوظ او د ختمِ نبوت عقيده

د حديثِ پاک مشهور کتاب **مسلم شريف** کښې دي: د الله پاک آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: الله پاک د زمکې او آسمان د پيدائش نه 50 زره کاله مخکښې د مخلوق تقدير اوليکو، هغه وخت په لوحِ محفوظ باندې چې څه اوليکلے شول، په هغې کښې دا هم وو: اَنَّ مُحَمَّدًا خَاتَمُ النَّبِيِّيۡن بے شکه مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو آخري نبي دے.[1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبیٰ! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی![2] |

## حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام او د ختمِ نبوت عقيده

د صحابئ رسول حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے چې آخري نبي، رسولِ هاشمي

---

[1] ... مسلم، کتاب القدر، باب حِجاج آدم و موسیٰ علیهما السّلام، صفحه:1023، حدیث:2653۔

[2] ... وسائلِ فردوس، صفحه:51۔

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې الله پاک حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام پیدا کړو نو د هغوئي اولاد ورته اوښودلے شو، هغوئي په خپل اولاد کښې بعضې د بعضو نه افضل اولیدو، بس هغوئي د ټولو نه په آخره کښې اوچت او روښانه نُور اولیدلو، عرض ئي اوکړو: یَا رَبِّ! مَنْ هٰذَا؟ اے الله پاکه! دا څوک دے؟ ارشاد اوشو: اے آدمه! دے ستاسو څوي احمد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دے، دے اَوَّل دے، دے آخِر دے، دے هغه دے کوم چې به (د قیامت په ورځ) د ټولو نه مخکښې شفاعت کوي، د دوئي شفاعت به د ټولو نه مخکښې قبلولے شي.[1]

✿ د صحابيِ رسول حضرت جابِر بن عبدُالله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې د الله پاک د نبي حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام د دواړو اوګو ترمینځه لیکلي وو: مُحَمَّد رسولُ الله خَاتَمُ النَّبِیِّیْن "مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک رسول او د ټولو آخري نبي دے."[2]

| | | | |
|---|---|---|---|
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اہلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی![3] |

## په زمکه باندې وړومبے اذان

د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے، رسولِ رحمت، شفیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام په هندوستان کښې راکوز شو، هغوئي لږه شان ویره محسوس کړه نو حضرت جبریل عَلَیْہِ السَّلَام راغلے، هغوئي اذان اوکړو، کله چې هغوئي اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله اووئیل نو حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام پوښتنه اوکړه: مَنْ مُحَمَّد؟ یعني محمد

---

[1] ... مختصر تاریخ دمشق لابن عساکر، ما ورد فی اصطفائه علی العالمین...الخ، جلد:2، صفحه:111۔

[2] ... مختصر تاریخ دمشق لابن عساکر، ذکر عروجه الی السماء واجتماعه بالانبیاء، جلد:2، صفحه:137

[3] ... وسائلِ فردوس، صفحه:51 ملتقطًا۔

څوک دے؟ جبریل عَلَیْہِ السَّلَام اووئیل: اٰخِرُ وَلَدِكَ مِنَ الْاَنْبِيَاء یعنې مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو په اولاد کښې د ټولو آخري نبي دے.[1]

## حضرت ابراهیم عَلَیْہِ السَّلَام او د ختمِ نبوت عقیده

په طبقات الکبرٰی کښې روایت دے: الله پاک په خپل نبي حضرت ابراهیم خلیل الله عَلَیْہِ السَّلَام باندې په نازل شوو صحیفو کښې لیکلي وو: (اے ابراهیمه!) ستاسو په اولاد کښې به ډیرې زیاتې قبیلے وي، تر دې چې نبي اُمِّي به تشریف راوړي (هغه نبي اُمِّي څوک دے؟ ارشاد اوشو:) اَلَّذِیْ یَکُوْنُ خَاتَمُ الْاَنْبِیَاء هغه کوم چې به د ټولو آخري نبي وي.[2]

## حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام او د ختمِ نبوت عقیده

د محمد بن کعب قُرَظِي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ نه روایت دے: الله پاک خپل نبي حضرت یعقوب عَلَیْہِ السَّلَام ته وحي اولیږله: (اے یعقوبه!) زه به ستاسو په اولاد کښې ډیر زیات بادشاهان او نبیان پیدا کووم، تر دې چې حرمِ محترم والا نبي به تشریف راوړي، وَهُوَ خَاتَمُ الْاَنْبِیَاء وَاِسْمُهٗ اَحْمَد یعنې هغه به د ټولو آخري نبي وي او د هغه پاک نوم اَحمَد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) دے.[3]

## حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام او د ختمِ نبوت عقیده

د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے، آخري نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي

---

[1] ... تاریخ مدینه دمشق، جلد: 7، صفحه: 437 ملتقطًا۔

[2] ... الطبقات الکبریٰ لابن سعد، ذکر علامات النبوة فی رسول الله ... الخ، جلد: 1، صفحه: 130 ملتقطًا۔

[3] ... الطبقات الکبریٰ لابن سعد، ذکر علامات النبوة فی رسول الله ... الخ، جلد: 1، صفحه: 129 ملتقطًا۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بے شکه کله چې په موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام باندې تورات نازِل شو نو هغوئي د دې تلاوت اوفرمائيلو، په دې کښې ئې د (آخري) اُمَّت ذِکر اولوستلو نو عرض ئې اوکړو: اے الله پاکه! زه په تورات کښې د داسې اُمَّت ذِکر وينم کوم چې به د (زمانے په لحاظ سره) د ټولو آخري او په (فضيلت کښې) د ټولو نه وړومبے وي، اے کريم مالکه! دا زما اُمَّت جوړ کړې! الله پاک اوفرمائيل: تِلْكَ اُمَّةُ اَحْمَد يعني اے موسٰی! دا د ټولو آخري نبي اَحمدِ مجتبیٰ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اُمَّت دے.[1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفےٰ! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبیٰ! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کالاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی![2] |

## د يو غيبي بزرګ نا اشنا واقعه

اے عاشقانِ آخري نبي! اوګورئ! مخکښينو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام ته باقاعده د وحې راليږلو سره اووئيلے شول چې زمونږه محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ټولو آخري نبي وي، بيا انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام خپلو اُمتيانو ته هم دا عقيده ياده کړه. تر دې چې حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو، هغوئي هم د نبئ اُمِّي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت او رسالت زيرے ورکړو او خپل اُمَّت ته ئې دا عقيده اووئيله چې مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ټولو آخري نبي وي. راځئ! د حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د يو اُمَّتي نا اشنا واقعه اورو:

---

1 ... دلائل النبوه، الفصل الرابع: ذکر الفضيلة الرابعة... الخ، جز: 1، صفحه: 33و34، حديث: 31 ملتقطًا

2 ... وسائلِ فردوس، صفحه: 51۔

د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د دور مبارک واقعه ده، حضرت نَضله بن معاويه اَنصاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د 300 مهاجرينو او انصارو سره د حُلوان عراق نه د مالِ غنيمت (يعنې د غير مسلمو نه په جنگ کښې په لاس د راغلي مال) سره واپس تشريف راوړلو، په لاره کښې د يو غر په خوا کښې پرې ماښام شو، حضرت نَضله بن معاويه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اَذان اوکړو، کله چې هغوئي اَللّٰهُ اَکْبَرُ اللّٰهُ اَکْبَر اووئيل نو د غر نه يو آواز راغلے، چا وئيل: اے نَضله! تا د ډير لوئے عظمت والا لوئي بيان کړله! کله چې هغوئي اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا الله اووئيل نو جواب راغلے: اے نضله! تا خالص توحيد بيان کړو، کله چې هغوئي اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله اووئيل نو آواز راغلے: دے د داسې نبي جوړولو سره راليږلے شوے دے د دوئي نه پس بَل هيڅ نبي نشته، دے ويرووونکے دے، دا دے د کوم زيرے چې مونږ له حضرت عيسٰی عَلَیْہِ السَّلَام راکړے وو، د دوئي د اُمَّت په آخِر کښې به قيامت قائميږي (يعنې د دوئي نه پس به تر قيامته پورې هيڅ يو نبي نه راځي)، صحابئ رسول حضرت نضله رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ چې کله حَیَّ عَلَی الصَّلٰوة اووئيل نو جواب راغلے: لمُونځ يو فرض دے، زيرے دے د هغه د پاره کوم چې په دې لور لاړ شي او د دې پابندي اوکړي. چې کله ئې حَیَّ عَلَی الْفَلَاح اووئيل نو آواز راغلے: مُراد ته اورسيدو کوم چې د لمُونځ د پاره راغلے او په دې ئې هميش والے اختيار کړو، مُراد ته اورسيدو چا چې د مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانبرداري اوکړه. کله چې هغوئي اَللّٰهُ اَکْبَرُ اللّٰهُ اَکْبَر، لَا اِلٰهَ اِلَّا الله اووئيل نو آواز راغلے: اے نَضله! تا پوره اِخلاص حاصل کړو نو الله پاک د دې په سبب ستا بدن په دوزخ باندې حرام کړو.

د اذان نه پس حضرت نَضله رَضِیَ اللہُ عَنْهُ لمُونځ ادا کړو، د دې نه پس اودريدو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: اے په ښکلي انداز کښې خبرې کوونکيه! مونږه ستا خبرې واوريدلې، تهٔ فرښته ئې که پيرے يا رِجَالُ الْغَيْب (يعني په نظر نه راتلونکے انسان)؟ زمونږ مخې ته د حاضريدو سره زمونږ سره خبرې اوکړه چې مونږه د الله پاک او د هغه د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د حضرت عمر رَضِیَ اللہُ عَنْهُ سفيران يو. دا وئيل وو چې د غر نه روښانه مخ والا يو سپين ګيرے بزرګ ظاهر شو، کوم چې د سپينې وَړئ يو څادر اچولے وو، د راتلو سره هغوئي سلام اوکړو: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ هلته موجودو حاضرينو جواب ورکړو، حضرت نَضله رَضِیَ اللہُ عَنْهُ اوفرمائيل: الله پاک دې په تاسو باندې رحم اوکړي، تاسو څوک ئې؟ هغوئي جواب ورکړو: زه زُرَيْب بن ثَرْمَلَا يم. د الله پاک نبـي حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَام زه په دې غر کښې پاتې کړے ووم او د آسمانونو نه د خپل بيا تشريف راوړلو پورې ئې زما د ژوندي پاتې کيدو دُعا کړې وه.[1]

سب صحابہ کا ہے یہ عقیدہ اٹل | ہیں یہ خیرُالورٰی خاتَمُ الْاَنبیاء

## د مخکښينو اُمَّتونو عالِمَان او د ختمِ نبوت عقيده

اے عاشقانِ رَسُول! زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو آخري نبي دے، دا خبره په تيرو اُمَّتونو کښې ډيره مشهوره وه. حضرت کعبُ الاَحبار رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي: زما والِدِ محترم د تورات ډير لوئے عالِم وو، الله پاک چې په حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام باندې څه

[1] … دلائل النبوة لابی نعیم، الفصل السادس:توقع الکهان، جز:1، صفحه:56، حدیث:54۔
دلائل النبوة للبیهقی، باب ما جاء فی قصة وصی عیسیٰ… الخ، جلد:5، صفحه:425۔
تاریخِ بغداد، جلد:10، صفحه:254 ملتقطًا۔

نازِل کړل، د دې خومره عِلم چې د هغه سره وو، د هغوئي په زمانه کښې د بَل چا سره نه وو، هغه به په خپل عِلم کښې هيڅ هم زما نه نهٔ پټول، کله چې د هغه آخري وخت راغلے نو زه ئې رااوبللم او اوئې وئيل: ځويه! تا ته معلومه ده چې ما په خپل عِلم کښې هيڅ څه ستا نه نهٔ دي پټ کړي، آو! 2 ورقونه دي، په دې کښې د يو نبي بيان دے، د هغوئي د تشريف راوړلو زمانه رانزدې شوې ده، ما دا خبره تا ته مخکښې د دې ويرې نه اونکړه چې هسې نه څوک د نبوت د دروغو دعوٰی اوکړي او تهٔ په هغه پسې روان نشې!

اوس ما هغه 2 ورقونه په فلانکي ځائے کښې کيښودي دي، اوس هغه د پرانستو سره مه کوره، کله چې هغه نبي تشريف راوړي، که الله پاک اوغوښتل نو تهٔ به په هغه پسې روان شې. حضرت کعبُ الاَحبار رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: ما هغه 2 ورقونه پرانستل او اومې کتل نو په هغې کښې ليکلي وو: مُحَمَّد رسولُ الله خَاتَمُ النَّبِیّٖن لَا نَبِیَّ بَعۡدَہٗ مَوۡلِدُہٗ بِمَکَّۃَ وَ مُھَاجَرُہٗ بِطَیۡبَۃَ يعني مُحَمَّد صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رسول دے، د ټولو آخري نبي دے، د ده نه پس به هيڅ يو نبي نه وي، د ده پيدائش به په مکه کښې کيږي او هجرت به د طيبه په لور فرمائي.[1]

✿ د جنتي صحابي حضرت سَعِيد بن زَيد رَضِیَ اللہُ عَنْہُ والد حضرت زيد بن عَمرو رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د جاهليت په زمانه کښې د دينِ ابراهيمي رښتينے پيروکار او د نيغے لارې مسافر وو، هغوئي د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو نه مخکښې وفات شوي وو، هغوئي به فرمائيل: زه د دينِ ابراهيمي په لټون کښې ښار په ښار اوګرځيدم، د يهوديانو او عيسايانو وغيره د چا نه چې مې هم پوښتنه اوکړه، ټولو د آخري

[1] ... الخصائص الکبریٰ، باب ذکرہ فی التوراۃ... الخ، جلد: 1، صفحہ: 25 ملتقطًا۔

نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت او صِفتونه بیان کړل او اوئې وئیل: د هغوئي نه عِلاوه بَل هیڅ یو نبي باقي نه دے.[1]

✿ حضرت مُغِیرَه بِن شُعبَة رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د اسلام راوړلو نه مخکښې د خپلې خبرې کولو سره فرمائي: یو ځل مونږ د مِصر د بادشاه مَقُوقَش نه د حضورِ اَقدَس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعریف واوریدو، بیا زه اسکندریه ته لاړم، هلته ما د مخکښینو اُمتونو یوه عبادت خانه هم پرې نهښودله، ټولو ته لاړم، د ټولو نه مې د مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په باره کښې پوښتنه اوکړه، آخِر د یو پادري خوا له لاړم، هغه د خپل قام ډیر لوئے عالِم وو، ما د هغه نه پوښتنه اوکړه: آیا څوک نبي دُنیا ته د راتللو نه پاتې دے؟ هغه اووئیل: نَعَم! وَهُوَ آخِرُ الۡاَنۡبِیَاء آو! هغه آخري نبي دے، د هغه او د عیسٰی عَلَیۡہِ السَّلَام ترمینځه یو نبي هم تشریف نه دے راوړے، حضرت عیسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام هم د دوئي د پیروئ حکم کړے وو، هغه نبي، اُمِّي، عربي دے او د هغه پاک نوم احمد دے.

حضرت مُغِیرَه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ما دا ټولې خبرې ښه یادې کړې او د هغه ځائے نه د را واپس کیدو سره مې اسلام قبول کړو.[2]

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبیٰ! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کالاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی![3] |

[1] ... الخصائص الکبرٰی، باب اخبار الاحبار... الخ، جلد: 1، صفحه: 43 ملتقطًا۔

[2] ... دلائل النبوة لابی نعیم، جز: 1، الفصل الخامس ذکره فی الکتب... الخ، صفحه: 4644، رقم: 45 ملتقطًا

[3] ... وسائلِ فردوس، صفحه: 51۔

## د وِلادتِ باسعادت په وخت خاص ستورے راواختلو

شاعرِ دربارِ رسالت، صحابئ رسول حضرت حَسَّان بن ثابِت رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: زما عمر 7 کاله وو، يو ځل د شپې آخرئ حصه وه، ناڅاپه يو آواز اوشو، چې راووتم او اومې کتل نو د مدينے په يو اوچته غونډۍ باندې يو غير مسلمه په لاس کښې د اور د شعلے سره په تيز آواز ټول رابلل، خلق د هغه په آواز باندې راجمع شول، هغه اووئيل: هٰذَا كَوْكَبُ اَحْمَد دا د اَحمَد (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ستورے دے، دا ستورے صِرف د يو نبي د وِلادت په وخت راخيژي او اوس په نبيانو کښې د حضرت اَحمد مجتبٰی (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) نه علاوه بَل څوک نبي باقي نه دے.[1]

## د معراج سفر او د ختمِ نبوت عقيده

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج واقعه ده، کله چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (په مسجدِ اَقصٰی کښې) د انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام سره ميلاؤ شو، هغه وخت انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام خطبے ورکړې، په دې کښې ئې د الله پاک حمد و ثنا بيان کړه، د ټولو په آخِره کښې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خطبه ارشاد اوفرمائيله، هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې خطبه کښې خپل او د خپل اُمّت ډير فضيلتونه بيان کړل، بيا ئې اوفرمائيل: ټول تعريفونه د هغه رَبِّ کريم د پاره دي چې جَعَلَنِی فَاتِحًا وَّ خَاتِمًا کوم چې زه فاتِح (يعني برسيره کوونکے) او خاتَم (يعني د ټول آخري نبي) جوړولو سره راليږلے يم. هغه وخت حضرت ابراهيم عَلَیْہِ السَّلَام انبيائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام ته

[1] ... دلائل النبوة لابی نعیم، جز:1، الفصل الخامس ذکرہ فی الکتب... الخ، صفحه:38، رقم:35 ملتقطًا

اوفرمائیل: بِهٰذَا فَضَّلَكُمْ مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یعنې د دې صفتونو او کمالونو په وجه مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو د ټولو نه افضل دے.[1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی![2] |

## د نوراني محل آخرئ خښته

د حدیثِ پاک په مشهورو کتابونو: **بخاری**، **مسلم**، **ترمذی** او **مسندِ احمد** کښې دي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: زما او زما نه د مخکښینو انبیاؤ مثال د هغه ګس په شان دے کوم چې یو ډیر ښکلے او ښائسته کور جوړ کړو خو د دې په یو ګوټ کښې ئې د یوے خښتې ځائے پریښودو، خلق د دې نه ګیر چاپیره ګرځیدل او په حیرانتیا سره ئې اوو‌ئیل چې ده دا خښته ولې نه ده کیښودې، بیا هغوئي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: زه هغه (آخري) خښته یم او په نبیانو کښې آخري نبي یم.[3]

په بَل روایت کښې دي: د دې خښتې ځائے (ډَکَولو والا) زه یم، زه چې راغلم نو ما د نبیانو (سلسله) ختمه (یعني مکمل) کړه.[4]

| | |
|---|---|
| ہیں وہ قصرِ نبوت کی اینٹ آخری | قولِ شاہِ دنا، خاتمُ الانبیا |

[1] ... مسندِ بزّار، جلد:17، صفحه:85، حدیث:9518 ملتقطًا۔

[2] ... وسائلِ فردوس، صفحه:51 ملتقطًا۔

[3] ... بخاری، کتاب المناقب، باب خاتم النبیین، صفحه:903، حدیث: 3535۔

[4] ... مسلم، کتاب الفضائل، باب ذکر کونه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ...الخ، صفحه:901، حدیث:2287۔

الحاج مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: سُبۡحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے مثال دے، نبوت لکه چې نوراني محل دے، انبيائے کرام عَلَیۡہِمُ السَّلَام لکه چې د دې نوراني خښتې دي حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لکه چې د دې محل آخري خښته ده، په کومه چې دا عمارت پوره شو، د دې نه معلومه شوه چې حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم آخري نبي دے، د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په زمانه کښې يا د هغوئي نه پس بَل هيڅ نبي نشته.[1]

## زما نه پس بل نبـي نشته

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت عَلِـيُّ المُرتضٰی، شيرِ خُدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: يو ځل زه بيمار ووم، د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شوم، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زه په خپل ځائے اودرولم او پخپله په لمُونځ کښې مصروف شو، بيا هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل څادر مبارک څه حصه په ما باندې واچوله، (د لمُونځ نه پس ئې) اوفرمائيل: اے علي! ته ښه شوې، په تا هيڅ تڪليف نشته، ما چې د اللّٰه پاک نه څه د ځان د پاره اوغوښتل، ستا د پاره مې هم اوغوښتل او ما چې څه اوغوښتل، اللّٰه پاک ما ته عطا کړل خو ما ته دا اوفرمائيلے شو چې لَا نَبِيَّ بَعۡدَكَ يعنې اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو نه پس بَل هيڅ نبي نشته. حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: زه هغه وخت داسې روغ شوم لکه چې هډو بيمار نه ووم.[2]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا ډير مشهور، ډير مختصر او د ختمِ نبوت د عقيدې بالکل

---

[1] ... مرآة المناجيح، جلد: 8، صفحه: 7 بتغير قليل۔

[2] ... کنز العمال، کتاب الفضائل، فضائل الصحابه، جز: 13، جلد: 7، صفحه: 74، حديث: 36509۔

واضِحه او صفا صفا بیانوونکے ډیر ښکلے حدیثِ پاک دے: لَانَبِیَّ بَعۡدِی زما نه پس هیڅ نبي نشته. بالکل هم داسې الفاظ یا د دې سره یو شان، د دې معنې او مفهوم الفاظ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو ځل نه بلکه بیا بیا، په څو موقعو باندې ارشاد اوفرمائیل. ځکه کوشش پکار دے چې دا مختصر شان حدیثِ پاک مونږه هم یاد کړو او بچو ته ئې هم یاد کړو، څه حدیث شریف دے: لَانَبِیَّ بَعۡدِی زما نه پس بَل هیڅ نبي نشته.[1]

خود میرے نبی نے بات یہ بتادی: لَانَبِیَّ بَعۡدِی!
ہر زمانہ سُن لے یہ نوائے ہادِی: لَانَبِیَّ بَعۡدِی!

## د ختمِ نبوت په عقیده باندې د ځناورو ګواهي

اے عاشقانِ رَسُول! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د ختمِ نبوت عقیده یوه داسې اټله، واضحه او صفا عقیده ده چې انسان خو انسان ځناورو ئې هم ګواهي ورکړې ده. د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: سرکارِ عالي وقار مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابۂ کرامو عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان سره تشریف فرما وو، د بنو سلیم قبیلے یو کَس راغلے، هغه سمسِره ښکار کړې او راوړې ئې وه، هغه سمسِره د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخې ته اوغورځوله او اوئې وئیل: زه به تر هغه وخته پورې ایمان نه راوړم تر څو چې سمسِره په تاسو باندې ایمان رانه وړي، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سمسِرې ته غږ اوکړو نو هغې اووئیل: لَبَّیۡكَ وَ سَعۡدَیۡكَ (یعنې زه حاضره یم او د فرمانبردارئ د پاره تیاره یم). سمسِرې دا خبره په دومره تیز آواز اوکړه چې ټولو حاضرینو واوریدله. بیا هغوئي

[1] ... مسلم، کتاب الامارة، باب وجوب الوفاء ببیعة الخلفاء الاول فالاول، صفحه:739، حدیث:1842۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ستا معبود (یعني د عبادت لائق) څوک دے؟ سمسِرې جواب ورکړو: زما معبود هغه دے د کوم عرش چې په آسمان کښې دے، د هغه بادشاهي په زمکه کښې ده، د هغه رحمت په جنت کښې دے او د هغه عذاب په دوزخ کښې دے. بیا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: اے سمسِرې! اووایه زه څوک یم؟ سمسِرې په تیز آواز اووئیل: اَنْتَ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْن یعني تاسو د الله رَبُّ العالمِین رسول او د ټولو آخري نبي ئې. چا چې تاسو رښتیني اومنلۍ هغه کامیاب شو او چا چې ستاسو نه انکار اوکړو هغه نامُراده شو. د دې معجزې لیدلو سره هغه کَس دومره متاثره شو چې هغه وخت ئې کلمه اووئیله او مسلمان شو.[1]

اے بلا! بے خردئ کفار، رکھتے ہیں ایسے کے حق میں انکار
کہ گواہی ہو اگر اُس کو درکار، بے زباں بول اُٹھا کرتے ہیں[2]

**وضاحت:** آه! مصیبت! د الله آخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه منونکي څومره نادانه او بے وقوفه دي، حالانکه که زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې رښتیني او آخري نبي کیدو ګواهي ورکول غواړي نو بے زبانه ځناور هم د ګواهۍ د پاره خبرې کوي.

## د مبارک خَر ګواهي

کله چې خیبر فتح شو نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو تور رنګ والا اوګرځېدو غوږونو والا ځناور یعني خَر اولیدلو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه سره خبرې اوکړې، هغه هم جواب ورکولو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترینه پوښتنه اوکړه: ستا څه نوم دے؟

---

[1] ... معجمِ اوسط، جلد:4، صفحه:283، حدیث:5996 ملتقطًا۔

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:112۔

عرض ئې اوکړو: د یزید ځوې شهاب، الله پاک زما د نیکه د نسل نه 60 اوګړدو غوړونو والا خَره پیدا کړل، كُلُّهُمْ لَا يَرْكَبُهُ اِلَّا نَبِیٌّ په دې ټولو باندې صِرف او صِرف نبیانو سورلي اوکړه، وَ قَدْ كُنْتُ اَتَوَقَّعُ اَنْ تَرْكَبَنِیْ لَمْ يَبْقَ مِنْ نَسْلِ جَدِّیْ غَيْرِیْ وَ لَا مِنَ الْاَنْبِيَاءِ غَيْرُكَ یعنې زما یقیني طمع وه چې حضور به ما ته د سورلۍ کولو شرف راکوي ځکه چې اوس زما د نیکه په نسل کښې زما نه علاوه هیڅ باقي نشته او په انبیائے کرامو عليهم السّلام کښې ستاسو نه علاوه بَل هیڅ نبي باقي نه دے.

خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه خوش قِسمته اوګړدو غوړونو والا خَر قبول کړو او د هغه نوم ئې یَعْفُور کیښودو.[1]

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمدِ مصطفٰے! | سب سے آخری نبی! | احمدِ مجتبٰی! | سب سے آخری نبی! |
| آمنہ کا لاڈلا! | سب سے آخری نبی! | شاہِ ہر دوسرا! | سب سے آخری نبی! |
| تاجدارِ انبیا! | سب سے آخری نبی! | ہیں حبیبِ کبریا! | سب سے آخری نبی! |
| عقیدہ سب صحابہ کا! | سب سے آخری نبی! | عقیدہ اَہْلِ بیت کا! | سب سے آخری نبی! |
| نظریہ غوث کا! | سب سے آخری نبی! | اَوْلیا کا نظریہ! | سب سے آخری نبی! |
| ہے رضا کا نظریہ! | سب سے آخری نبی! | نظریہ عطار کا! | سب سے آخری نبی![2] |

## 30 دروغژن نبیان

اے عاشقانِ رَسول! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ختمِ نبوت عقیده بالکل واضحه او صفا عقیده ده، د دې ټولو دلیلونو نه دا خبره واضحه شوه چې د آسمان او زمکې د پیدا کیدو نه د مخکښې نه واخله تر اوسه پورې په هره زمانه کښې د فرښتو، نبیانو، صحابهٔ کرامو، اهلِ بیتو،

[1] ... تاريخِ مدينه دمشق، جلد:4، صفحه:232 ملتقطًا۔

[2] ... وسائلِ فردوس، صفحه:51و52 ملتقطًا۔

علماؤ، اولياؤ، د ټولو هم دا عقيده وه چې زمونږ خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو آخري نبي دے، د هغوئي نه پس به بَل نوے نبي نه راځي.

خو **ياد ساتئ!** دا عقيده چې څومره واضحه او صفا ده، په دې باندې ډاکې غورځولو والا هم ډير زيات دي. آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زما په اُمَّت کښې به 30 دروغژنان (يعنې ډير غټ دروژنان) وي، په دوئي کښې به هر يو دا خيال کوي چې هغه نبي دے حالانکه زه خَاتَمُ النَّبِيِّن يم او زما نه پس بَل هيڅ نبي نشته.[1]

مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې ليکي: 30 دروغژنان نبيان هغه دي، کوم چې خلقو نبيان اومنل او د هغوئي فساد خور شو، د بَل قِسم مُدَّعِي نبوت (يعنې د نبوت دروغژن دعويدار) کوم چې چا اونه منل هغوئي د بکواس کولو سره مړه شول، هغه خو ډير زيات دي.[2]

## د ايمان د سلامتيا د فِکر نه کولو نقصان

معلومه شوه: په ختمِ نبوت باندې ډاکې غورځولو والا ډير دي، ځکه مونږ له پکار دي چې د خپل ايمان فِکر اوکړو. ياد ساتئ! د يو انسان سره د ټولو نه قيمتي بلکه نايابه څيز د هغه ايمان دے، د الله پاک په رحمت سره د چا چې د ايمان دولت نصيب دے، هغه که د مال په لحاظ سره اګرچه غريب وي خو د ايمان د دولت نه محرومه کروړ پتي، ارب پتي کَس نه هم ډير مالداره دے، خو د اسلام د دولت نه محرومه مالدار په حقيقت کښې غريب دے او مَعَاذَ الله! ثُمَّ مَعَاذَ الله! په دې حال يعنې د کُفر په حالت کښې مړ شوے کَس به د هميشه هميشه د پاره په دوزخ کښې وي. ځکه هر مسلمان له پکار دي چې

---

[1]... ابو داؤد، كتاب الفتن، باب ذكر الفتن و دلائلها، صفحه:666، حديث:4252۔

[2]... مرآة المناجيح، جلد:7، صفحه:219۔

د ایمان د سلامتیا او د خاتمه بالخیر د پاره په بارګاهِ رَبُّ العزّت کښې دُعا کوي، د فتنو نه په دې ډَک وخت کښې چې چرته په نیک اعمال کولو کښې بےحده سستي راغلې ده هلته د ایمان د حفاظت فِکرهم ډیرکم په نظر راځي، هره ورځ نوې نوې فتنې په مختلف انداز کښې د مسلمانانو ایمان په نړولو کښې مصروفې دي، د ایمان د سلامتیا فِکر ډیر ضروري دے، که ټول ژوند په نیکو کښې تیر شوے وي خو خدائے دې نکړي که خاتمه په ایمان اونشوه نو د همیشه همیشه د پاره به په دوزخ کښې اوسیدل وي. د آخري نبي، مکي مدني صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِیْم یعنې د اعمال دار و مدار په خاتمه باندې دے.[1]

د حیرانتیا او د ډیرې حیرانتیا خبره دا ده لکه څنګه چې د دنیاوي دولت د حفاظت په معامله کښې غفلت د ضائع کیدو سبب جوړیږي، د دې نه هم ډیره سخته معامله د ایمان ده. سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: علمائے کرام فرمائي: د چا سره چې د ایمان تللو ویره نه وي، د مرګ په وخت د هغه د ایمان تللو ډیره اندیښنه ده.[2]

د آخري نبي ټولو عاشقانو له پکار دي چې دا مسنون دُعا خامخا کوي:

يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِیْ عَلٰی دِیْنِكَ[3]

ترجمه: اے د زړونو ګرځونکیه! زما زړه په خپل دِین باندې ثابت قدم اوساته.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1] ... بخاری، کتاب القدر، باب العمل بالخواتیم، صفحه:1617، حدیث:6607۔

[2] ... سب سے آخری نبی، صفحه:10، ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:495 بتغیر قلیل۔

[3] ... ترمذی، کتاب القدر، باب ما جاء ان القلوب بین اصبعی الرحمٰن، صفحه:517، حدیث:2140۔

# د ذيلي حلقے 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار:

## هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د فتنو نه ډک په دې اوسني وخت کښې د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي په زړونو کښې د عشقِ رسول راپارولو، د نيکئ د دعوت ورکولو او د اُمَّت د نيک لمُونځ ګزاره جوړولو په کوشش کښې مصروف دے، تاسو هم د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمَن اونيسئ او د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه نصيب شي. د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **هفته واره رساله مطالعه** هم ده. راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## غير مسلمه مسلمان شو...!!

د هندوستان د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دے: زه د کفر په تيَرو کښې ورَک ووم، يوه ورځ راله چا د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **احترامِ مسلم** په تحفه کښې راکړه. ما چې اولوستله نو حيران پاتې شوم چې کومو مسلمانانو ته به ما هميشه د نفرت په نظر کتل د هغوئي مذهب **اسلام** دومره د امن پيغام ورکوي! د رسالے د ليک اثر لکه د غشي زما په زړه اولګيدو او په زړه کښې مې اسلام کور اوکړو. يوه ورځ ما په بس کښې سفر کولو چې د يو څو ګيرو والا او عمامو والا اسلامي ورونو قافله هم بس ته را اوختله، ما ته پته اولګيده چې دا مسلمانان دي، زما په زړه کښې د اسلام محبت پيدا شوے وو ځکه ورته ما په درنه سترګه کتل، په دې کښې يو اسلامي ورور د نبئ مکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په

شان کښې نعت شریف شروع کړو، زما د هغه انداز ډیر خوښ شو، زما خوښې ته چې ئې اوکتل نو په هغوئې کښې یو ګس زما سره خبرې شروع کړې. هغه ته پته اولګیده چې زه مسلمان نه یم، هغه په مسکا ډیر په زړه راښکونکي انداز کښې ما ته اووئیل، زه تاسو ته د اسلام قبلولو خواست کووم، زه د **احترامِ مسلم** رسالے لوستلو سره د مخکښې نه په زړه کښې په اسلام مئین شوے ووم، د هغه د محبت نه ډک انداز په زړه باندې نور اثر هم اوکړو او اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! ما کلمه اووئیله او مسلمان شوم.[1]

| اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کر دیا دیکھو | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا دیکھو |
|---|---|

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب   صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دارُ الاِفتاء اهلسُنَّت ایپلي کیشن

د دعوت اسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې دے: ***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت). دا ایپلي کیشن په ***Android*** او ***IOS*** دواړه قِسمه ډیوائسز کښې په آسانئ سره ډاؤن لوډ کیدے شي، په دې ایپلي کیشن کښې په مختلفو موضوعاتو باندې د پوښتلے شوو سوالونو جوابونه په آډیو، ویډیو او لیکلي شکل کښې موجود دي ❀ د تجارت احکام ❀ فرض علوم کورس ❀ او تجارت کورس هم په دې ایپلي کیشن کښې شامل دے.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب   صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... غافل درزی، صفحه:25۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت ، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د زُلفو او د سر د ويښتو سُنَّتونه او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د چا چې ويښته وي هغه دې د هغې اِکرام اوکړي.[2] يعني هغه دې وينځي، تيل دې ورکوي (يعني غوړوي دې) او ګمنز کوي دې.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُلفان مُبارک به کله د غوږونو مبارکو د نيمې پورې ❀ کله به د غوږونو مبارکو د آخرئ حصے پورې او ❀ بعضې وخت به چې غټ شو نو د اوګو مبارکو يعني د اوګو مبارکو سره به ئې لګيدل ❀ مونږ له پکار دي چې موقع په موقع درې واړه سُنَّت ادا کړو، يعني کله د غوږونو د نيمې پورې، نو کله د دواړو غوږونو پورې او کله تر اوګو پورې ويښته اوساتو ❀ بعضې خلق (په ويښتو کښې) نيغه يا اُلټا لاره (کرښه) اوباسي دا د سُنَّت خلاف کار دے ❀ سُنَّت دا دي چې که چرې په سر باندې ويښته وي نو په مينځ کښې ئې لاره (کرښه) ويستلے شي ❀ د نارينه سره اختيار دے چې د سر ټول ويښته اوخَرَئي يا ئې غټ کړي او

[1]...تاریخ دمشق، جلد9، صفحه343۔

[2]...ابو داؤد، کتاب الترجل، باب فی اصلاح الشعر، صفحه:653، حدیث:4163۔

په مینځ کښې ئې لاره (کرښه) اوباسي ❁ حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په سر مبارک اکثر تیل لګول (یعني ویښته به ئې غوړول) او ږیره مبارکه به ئې اکثر ګمنز کوله او اکثر به ئې په سَر مُبارک باندې کپړه کېښودله (یعني سر مُبارک به ئې پټولو) تر دې پورې چې کپړه به په تیلو لمْده شوه.[1]

تیل کی بُوندیں ٹپکتی نہیں بالوں سے رضا | صبحِ عارِض پہ لُٹاتے ہیں ستارے گیسو

**وضاحت:** اے رضا! د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکو زلفو نه چې د تیلو کوم څاڅکي کیږي، ما ته خو دا ننداره داسې لګي لکه څنګه چې د ستورو ډکه شپه د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ باندې، په رُخِ وَالضُّحٰی باندې ستورې نولي.

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د **مکتبة المَدینه** **بهارِ شریعت** جلد 3 نه حصه16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د 91 مخونو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ!

د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنّتیں سیکھیں گے اِس میں اِنۡ شَآءَ اللہ سر بَسَر
جو بھی شیدائی ہے مدنی قافلوں کا یاخدا! | دوجہاں میں اُس کا بیڑا پار فرما یاخدا!

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]...550 سنتیں اور آداب، صفحہ:41تا43 ملتقطاً۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ
الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لا که دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ

صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰہِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُم حیران شول چې دا خوك ذِی مَرتبه [یعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

---

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لكه شبِ قدر ئې چې حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لكه هغه چې شَبِ قَدر حاصل كړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ١٠/٢٥٤، حديث:١٧٣٠٥

3...تاريخ ابنِ عساكر، ١٩/١٥٥، حديث:٤٤١٥